ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۰۴

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
(اته ويشتمه برخه)

### نور جهان فاراني

په ۱۹۴۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه فارغه سوې ده او وروسته ئـې په آسترالیا کې په نشراتو یا براډکاسټینګ کې روزنه ولیدله. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د راډیو افغانستان د مېرمنو، ماشومانو او د کلیو د پروګرامونو عمومي مدیره. لیکواله، انونسره او د کابل - راډیو پرودیو سره. په افغانستان کې یوه له لومړنیو ښځو ژورنالیستانو څخه ده.

### سيد داؤود فاراني

د سید محمد زوی، په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئـې په غزني کې کړي او په ۱۹۳۹؟ / ۱۹۵۹ – ژ [1] کې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې د راډیو افغانستان رسمي مأمور. لیکوال. د تلویزیون انونسر، ډایرکټر او پروډیوسر؛ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د خلقیانو له پلوه د څلورو میاشتو لپاره زنداني سوی وو. له افغانستان څخه ووت او په جرمني کې ژوند کوي.

### سيد حسن فاراني

د کونړ د پـــښـــتـــد د بومي اوسېدونکي سید حسین زوی، په ۱۹۰۰ز کال کې د لغمان په چارباغ کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې په اسلامیاتو کې په خصوصي ډول کړې دي. د ۱۹۲۰ز لسیزې په اوږدو کې د „جنګ له ښوونځي/ حربي ښوونځي – ژ„ څخه فارغ سوی دئ. د اعلیحضرت امان الله خان ملاتړی او د حبیب الله کلکاني پر ضد ئـې پوځي فعالیتونو کې ونډه واخیستله. جنرال او „رئیسِ حربیه„ سو. په ۱۹۲۹ز کال کې ئـې د „کور غم„ رساله خپره کړه. زنداني سو او په ۱۹۴۰ز کال کې په زندان کې وفات سو. سید حسن یو نشنلیست / ملتپاله او پښتون شاعر وو.

[1] - په متن کې د زوکړې نېټه ۱۹۴۰ ښیي او د فراغت کال ئـې ۱۹۳۹ز کال ښيي. دا څرګنده ټایپي تېروتنه ده. ما ژباړونکي ۱۹۵۹ز کال د حدس او ګومان له مخې لیکلی دئ څکه چې سمدلاسه په ۱۹۶۰ز کال کې په کار پیل کوي. – ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## سید محمود فاراني

د سید محمد زوی، په ۱۹۳۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د الهیاتو ښوونځي ته تللی او په ۱۹۶۲ز کال کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د راډیو افغانستان د پروګرامونو پروډیوسر. د انیس، اصلاح او جمهوریت ورځپاڼو محرر. شاعر او لیکوال. د پلچرخي په زندان کې له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې زنداني سو. پاکستان ته وتښتېد.

## حافظ محمد اکبر فارغ

د شاعر حافظ مجذوب زوی، په ۱۸۹۱ز کال کې د غوربند په سیاه ګرد کې زېږېدلی دئ. خپله ئې زده کړې په خپله کړې دي. په ۱۹۱۴ز کال کې ئې له ملک الشعرا قاري عبدالله څخه زده کړې تر لاسه کړې. په دې پسې ئې په بېلابېلو حکومتي دفاترو کې کار وکړ. وروستنی کاري دریځ ئې د کابل د ادبي ټولنې منشي توب وو. د برتانیې په سفارت کې د سیاسي قتل له هڅې وروسته له غبار او جویا سره یو ځای زنداني سو. د ۱۹۳۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سو. شاعر.

## غلام محمد فرهاد

د حاجي سید احمد خان فرهاد زوی په ۱۹۰۱ز کال کې د میدان په ابراهیم خیلو کې زېږېدلی دئ؛ فرهاد د یوسفزي له قبیلې څخه دئ چې په ۱۹۱۵ز کال کې له لوګر څخه کابل ته راغلی. غلام محمد فرهاد د حبیبیې په ښوونځي کې زده کړې وکړې او د زده کوونکو په هغې لومړنی ډلې کې وو چې په ۱۹۲۱ز کال کې اعلیحضرت امان الله ترکیې ته واستوله. د میونیخ د تخنیک په پوهنتون [2] کې ئې الکتریکل انجنیري ولوستله. په ۱۹۲۸ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د نجات په ښوونځي کې ښوونکی. د کابل د «ماشین خانې» د الکترو تکنیکل دیپارتمنت مسؤول. په ۱۹۳۴ز کال کې د ټولګټو/ فواید عامې په وزارت کې د برېښنا د څانګې مدیر. جرمني ته واستول چې د چک وردک د اوبو د بند د برېښنا د تولید د بټۍ لپاره وسایل وپېري. په ۱۹۳۹ز کال کې د کابل د برېښنا د کمپنۍ «شرکتِ برق» رئیس. په ۱۹۴۷ز کال کې جرمني ته لاړ چې د سروبي د اوبو د بند د برېښنا د تولید د بټۍ لپاره وسایل وپېري. د فرهاد نوم ئې د خپل کورني نوم په توګه غوره کړ او په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل ښاروالۍ په انتخاباتو کې وټاکل سو او د کابل ښاروال سو. په زاړه ښار کې ئې لومړنی اساسي سړک جوړ کړ چې د میوند جاده نومېږي او بې ځایه سویو خلکو ته ئې ځای برابر او ځای پر ځای ئې کړل. د برتانیې په ډول د کیڼ لاس ترافیک او موټر چلول ئې ښي لاس ته بدل کړل او له دې بدلون وروسته په ټول افغانستان کې پلی سو. په کابل کې ئې د لومړي ځل لپاره د ترافیک څراغونه او اشارې کښېښودلې. په ۱۹۵۴ز کال کې ئې د کابل ښاروال د تصدی دوره بشپړه سوه او تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئې د برېښنا د ریاست د رئیس په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړ. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی چې اساسي قانون ئې تصویب کړ. د ۱۹۶۶ز کال د اپریل له میاشتې، د ۱۹۶۷ز کال د مې تر میاشتې پورې د افغان ملت په نوم د ملت پال ګوند بنسټ اېښودونکی او د افغان ملت د خپروني ناشر. په ۱۹۶۸ز کال کې د کابل له شېرمې ناحیې څخه د ولسي جرګې غړی. غلام محمد فرهاد یو مارکسیست ضد شخصیت وو چې په ۱۹۷۰ز کال کې ئې له ولسي جرګې څخه استعفی وکړه. د

---

[2] - Electrical Engineering at Technische Universitaet of Munich

۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په څلورمي نېټې ونیول سو او په دې تورن سو چې د خلقي رژیم پر ضد ددسیسې مشر دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې له زندانه آزاد سو. نوموړی یو پښتون نشنلیست یا ملتپاله وو. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. وروڼه ئې : حاجي غلام سرور د تیلګراف انجنیر؛ سخي احمد د زابل او نیمروز والي؛ عزیز احمد د افغان نساجي په کمپنۍ کې ژباړونکی؛ شفیع احمد د سپورت ښوونکی او قدرت الله حداد ژورنالیست او لیکوال.

غلام محمد فرهاد چې د پاپا غلام په نوم هم شهرت لري په ۱۹۲۹ز کال کې ئې خپلې ترلې/ د ترور له لور؟ سره واده کړی دئ او په ۱۹۳۳ز کال کې ئې یو زوی وزېږېد او نوم ئې نادر کښېښود؛ نادر د شیردل وردک له لور سره واده وکړ او څو زامن لري؛ همدا شان نوموړي په ۱۹۵۲ز کال کې له یوې جرمنۍ مېرمنې سره واده وکړ او د مریم په نوم یوه لور ورڅخه لري. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. پاپا په ۱۹۸۴ز کال کې په کابل کې وفات سو (۱۳۶۳ د لړم ۱۵)

## غلام سرور فرهاد

د حاجي سید احمد خان فرهاد زوی په ۱۸۹۷ز کال کې په میدان کې زېږېدلی دئ؛ د یوسفزیو له قبلې څخه دئ او د غلام محمد فرهاد مشر ورور دئ. په ۱۹۱۵ز کال کې د حبیبیې په لیسې کې شامل سو. د امیر امان الله خان له پلوه کراچۍ ته واستول سو چې د تیلیګراف د تکنیشن په توګه وروزل سي. له برتانوي مأموریت څخه په پاتې سوي تیلیګراف ئې کار پیل کړ؛ د تیلګراف دا دستګاه په ۱۹۲۱ز کال کې له افغانستان سره د سولې له مذاکراتو وروسته افغانستان ته پرېښودل سوې وه. لومړنی تیلیګرام ئې له کابله د پېښور له لارې اروپا ته افغان سفیر ولي محمد ته ولېږۀ. دی د مهتاب قلعې د تیلیګراف د ستیشن مدیر سو او څو موده وروسته ئې په بغلان کې خدمت وکړ. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې د یوۀ فیلوشپ په ترڅ کې د شپږو میاشتو لپاره د امریکا له متحده ایالاتو څخه لیدنه وکړه. په ۱۹۵۴ز کال کې متقاعد سو خو تر ۱۹۶۰ز کال پورې د هوایي ملکي په ریاست کې د تیلیګراف د مخابراتو د ښوونکي په توګه کار وکړ. په ۱۹۷۸ز کال کې وفات سو.

**فرهاد، قدرت الله حداد** : وګورئ : حداد

## سخي احمد فرهاد

د حاجي سید احمد فرهاد زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په لیسې کې ئې زده کړې کړې دي. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د راډیو کابل رسمي مأمور. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۱ز کال پورې په حربي پوهنتون کې د فزیک او جرمني ژبې استاد. د راډیو انقرې انونسر، او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د پښتو پروګرامونو راپورتر. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د باختر خبري آژانس مدیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کټواز حاکم؛ له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د زابل والي. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د نیمروز والي. په ۱۹۷۳ز کال کې د پنځوس کلنۍ په عمر ئې تقاعد وکړ. په ۱۹۸۳ز کال کې په پاکستان کې مهاجر. د ۱۹۸۴ز کال د مې په میاشت کې د امریکا متحده ایالاتو ته راغی. په ۱۹۴۵ز کال کې ئې د حاجي عبدالرؤوف یوسفزي له لور مېرمن آصفې سره واده وکړ او په دغو نومونو بچیان لري : بشیر احمد، اسد سخي، عنایت الله، حامد کمال او آریانا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## عبدالغفور روان فرهادي

د استقلال د لیسي د ښوونکي عبدالباقي زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې ئـې د پاریس له پوهنتون[3] څخه په سیاسي علومو کې دیپلومه ترلاسه کړه او په ۱۹۵۵ز کال کې ئـې په نړۍ والو حقوقو کې دیپلوم واخیست. په ۱۹۵۵ز کال کې ئـې د سوربون[4] له پوهنتون څخه خپله دکتورا په «ایندو- ایراني» [5] فیلالوژۍ کې تر لاسه کړه. په ۱۹۵۵ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې مدرس. په ۱۹۵۶ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د ملګرو ملتونو او نړۍ والو کنفرانسونو د څانګي سرپرست مدیر. په ۱۹۵۸ز کال کې په کراچۍ کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۶۰ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د کلتوري اړیکو د څانګي سرپرست مدیر، او د ملګرو ملتونو او نړۍ والو کنفرانسونو د څانګي مدیر. په ۱۹۶۲ز کال کې په واشنګټن ډي. سي. کې د افغان سفارت قـنسـل. په ۱۹۶۴ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو عمومي مدیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۱ز کال پوري د کابیني سکرتر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پوري د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو مرستیال وزیر. په ۱۹۷۳ز کال کې د پاریس سفیر. د راهٔ حق په نوم د مقالاتو پرله پسي لړۍ ئـې خپره کړه. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د کلتوري اړیکو د مشورتي کمیټي غړی. په ګڼ شمېـر نړۍ والو کنفرانسونو کې ئـې د افغانستان استازیتوب کړی دئ. د خلقیانو د واکمنی پر مهال زنداني سو او د حفیظ الله امین له پرځـېدلو وروسته له زندانه خلاص سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری په ۲۷ نېـټه د باندنیو چارو د وزارت سلاکار وګومارل سو. په ۱۹۸۳ز کال کې له افغانستانه وتښتـېد. له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۴ز کال پوري د پاریس د سوربون په پوهنتون کې د پارسي ادبیاتو پوهنمل. د ۱۹۸۵ز کال د جولای له میاشتي د آګست تر میاشت پوري د آسترالیا د کن بیرا[6] د پوهنتون مـېلمه همکار. په ۱۹۸۵ز کال کې د کالیفورنیا د برکلي په پوهنتون کې د پارسي ادبیاتو پوهنمل. آثار ئـې په ژب پـېژندنې، ادبیاتو او سیاسي علومو کې خپارهٔ سوي دي. مورنی ژبه ئـې دري ده.

## نور بیا

## عبدالشکور فرهادي

د عبدالباقي زوی او د روان فرهادي ورور په ۱۹۴۰ز کال کې...

## قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[3] - Paris University
[4] -Sorbonne
[5] - Indo- Iranian Philology , Ecole Pratique des Hautes Etudes et Lettres
[6] - University of Canberra Australia


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ